د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

شيخ زايد پوهنتنون

# کمپيوټرساينس پوهنځی معلوماتي کتاب

# Catalog of Computer Science Faculty

# لړلیک


| گڼه سرلیک | مخګڼه |
|---|---|
| 1. د کمپیوټرساینس پوهنځی د ریئس پیغام | ۲ |
| 2. د کمپیوټرساینس پوهنځی تاریخچه | ۳ |
| 3. د کمپیوټرساینس پوهنځی لرلید Vision | ۳ |
| 4. د کمپیوټرساینس پوهنځي ماموریت Mission | ۳ |
| 5. د کمپیوټرساینس پوهنځی موخې | ۳ |
| 6. د کمپیوټرساینس پوهنځی اداري تشکیل | ۴ |
| 7. د کمپیوټرساینس پوهنځی څانګی | ۴ |
| 8. د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې تاریخچه | ۵ |
| 9. د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې لرلید Vision | ۵ |
| 10. معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې رسالت Mission | ۵ |
| 11. معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې اداري جوړښت | ۶ |
| 12. د معلوماتي سستمونو څانګې لرلید vision | ۷ |
| 13. د معلوماتي سستمونو څانګې ماموریت Mission | ۷ |
| 14. د معلوماتي سستمونو څانګې اداري جوړښت | ۷ |
| 15. د کمپیوټرساینس پوهنځي تشکیلاتي چارت | ۷ |
| 16. د پوهنځي اړوندې فرعي کمېټې | ۸ |
| 17. د کمپیوټرساینس پوهنځی کریکولم | ۸ |
| 18. د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې کریکولم | ۱۰ |
| 19. د معلوماتي سستمونو څانګی کریکولم | ۱۲ |
| 20. د کمپیوټرساینس پوهنځی فزیکی منابع | ۱۳ |
| 21. کمپیوټرساینس پوهنځی لیبونه | ۱۴ |
| 22. کمپیوټرساینس پوهنځی کتابتون | ۱۵ |
| 23. کمپیوټرساینس پوهنځی درسي خونې | ۱۶ |

**د کمپیوټرساینس پوهنځی د ریئس پیغام!**

نَحْمَده وَنَصلِی عَلیٰ رَسُولِهِ الْکَرِیم أمابعد! أعوذبالله من الشیطان الرّجیم بسم الله الرّحمٰن الرّحیم.

(وأعدوا لهم مااستطعتم من قوة و من رباط الخیل ترهبون به عدولله و عدوکم وآخرین من دونهم لا تعلمونهم الله یعلمهم) الأنفال/٦٠. دا چې ننی عصر د ټکنالوژۍ، ابتکار، او نوښتونو عصر دی، د نړۍ پرمختللي هیوادنه د ټکنالوژۍ په برخه کې سیالی کوي او د همدې عصري ټکنالوژۍ په مټ یې د کمزورو هیوادونو مالي سرچینې قبضه کړي دي او د دوی په کلتور، خاوره او مذهب باندې یرغلونه کوي. ځکه خو هر هیواد او ملت کوشش کوي، چې تر نورو د وخت په علومو کې مخکښ واوسي تر څو د چا تر اثر او قبضې لاندې رانشي.

د اسلام سپیڅلی نظام هم مونږ ته د اعداد لارښونه کوي، تر څوله نورو څخه مخکښ واوسو داسې وسایل او اسباب رامنځ ته کړو چې د ځان، وطن او اسلامي نظام څخه دفاع وربانديې وکړو، چې په اوس وخت کې د دې اسبابو ښکاره مثال عصري ټکنالوژي کیدلای شي. په دې عصر کې د عصري ټکنالوژۍ رول د ژوند په هره برخه لکه (طب، انجینري، زراعت، نظامي او نورو) کې ډېر موثر دی، چې په مټ یې مربوطه برخه ډیره پیاوړې کیږي. د ټکنالوژۍ په برخه کې بې ساري او چټک پرمختګونه د دې لامل شوي دي چې پوهنتونونه خپل نصاب او تعلیمي برنامې د عصري ټکنالوژۍ په ډګر کې د رامنځته کېدوونکیو پرمختګونو او نوښتونو سره عیار او ترتیب کړي. د افغانستان د لوړو زده کړو محترم وزارت د ټکنالوژۍ په برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ ساتلې او لا هم جریان لري.

د کمپیوټرساینس پوهنځی هڅه کوي، چې د یویشتمې پیړۍ تخنیکي او ټولنیزو اړتیاوو ته په کتو سره خپل نوی نسل په داسې ډول وروزي، چې په مارکیټ کې د بشري قوی د تشې په ډکولو، د نویو کارونو په رامنځته کولو او د مختلفو څېړنیزو پروژو په لارښوونه کې اغیزناك او پر ځای رول اداکړی شي. یاد هدف ته د رسیدو لپاره د پوهنځي اداره د پوهنتون رهبرۍ سره په همغږۍ هڅه کوي چې په ټولګیو کې پر تدریس علاوه خپلو محصلانو ته د لابراتواری او ساحوي زده کړو لا ښه شرایط برابر کړي. باید یادونه وکړو، چې د کمپیوټرساینس پوهنځی اداره نه یوازې خپل محصلان په مسلکي زده کړو سمبالوي بلکې دوی ته ښایې چې د اسلام له نظره هم د ټولنې لپاره چې په اوسني دور کې څنګه زده کړی وکړي، څنګه فکر وکړي، د ژوند د حقیقی مشکلاتو سره په څه ډول مخامخ شي او په ټیکنالوژۍ کې د چټك او ناڅاپي ډول د پیښیدونکو تغیراتو سره ځانونه په څه ډول عیار او برابر کړي. په دې هیله چې زمونږ دا هڅې محصلان د داسې ډول کړنو او نوښتونو جوګه کړي چې د شیخ زاید پوهنتون، هیواد او د ټول انسانیت لپاره د خدمت، پرمختګ، او ویاړ لامل وګرځي.

په درنښت

پوهنمل عبدالرحیم احمدي

## د کمپیوټرساینس پوهنځی تاریخچه:

په شیخ زاید پوهنتون کې کمپیوټرساینس د ښوونې او روزنې پوهنځي د یوې څانگې په توگه فعالیت درلود. خو له نېکمرغه نوموړې څانگه د ۱۳۹۰ کال کې د کمپیوټرساینس پوهنځی په نوم په رسمي توگه په فعالیت پیل وکړ او په لومړیو کې یې یواځې د کمپیوټرساینس عمومي څانگه درلودله. د چټک پرمختگ او د ټولنې د غوښتنو سره سم په ۱۳۹۵ کال کې معلوماتي ټکنالوژۍ او د معلوماتي سستمونو په نومونو دوه رسمي فارغ ورکوونکي څانگې د کمپیوټرساینس پوهنځی ته ورکړل شوی. د معلوماتي ټکنالوژۍ او معلوماتي سستمونو څانگې ټول محصلین په لومړي او دوهم ټولگیو کې یو ځای د کمپیوټرساینس په عمومي ډیپارټمنټ کې زده کړې ترسره کوي، او په دریم ټولگي کې د کانکور د انتخاب سره سم دوی ته په څانگه کې د څانگړي کریکولم له مخې تدریس پر مخ وړل کیږي. دا مهال کمپیوټرساینس پوهنځی لومړی، دوهم، دریم او څلورم ټولگي لري چی جمله ۵۰۶ محصلین په زده کړو بوخت دي چې د ۱۴۰۳ هـ ش کال تر پایه یې د څلورم ټولگي څخه ۱۷ دوره محصلین ټولنې ته د چوپړ لپاره وړاندې کړي دي.

## د کمپیوټرساینس پوهنځی لرلید Vision

د پرمختللو او مخ پر ودې هیوادونو تر منځ په تکنالوژی کې د بې ځایه فرق کمول، په موجوده وخت کې د هیواد او په راتلونکي وختونو کې د سیمې او هېواد په کچه د صنعت د ښې ودې او اداري مشکلاتو د حل په خاطر ټولنې ته د روزل شویو او مسلکي کادرونو وړاندې کول.

## د کمپیوټرساینس پوهنځي ماموریت Mission

د کمپیوټرساینس پوهنځی ژمن دی، چې د کمپیوټرساینس او کمپیوټري ټکنالوژی د څېړنې او پرمختگ مشري کوونکي محصلان ټولنې ته وړاندې کړي.

## د کمپیوټرساینس پوهنځی موخې Program Objective (POs)

د کمپیوټرساینس پوهنځی موخې، چې محصلان به د نوموړي پوهنځي څخه د فارغیدو پر وخت لاندې وړتیاوې ولري:

۱ – CS : د یوې سپیڅلې، اسلامي او ملي روحیې په درلودلو سره ټولنې او وطن ته د خدمت کولو په موخه ژمن پاتې کیدل (A4,A5).

۲ – CS : د کمپیوټرساینس په اساساتو پوهېدل(CS).


۳ - CS : د معلوماتي سستمونو او معلوماتي ټکنالوژۍ په تیوریو پوهېدل، عملي او تحلیل کول ( CS,C3,C4).

۴ - CS : د معلوماتي سستمونو او معلوماتي تکنالوژیو عملي کولو په مرسته په محلي، ملي او نړیوالو ادارو کې کاري وړتیا ښودل (P5,P6,P7,C4,C5,C6).

۵ – CS : د معلوماتي سستمونو او معلوماتي تکنالوژیو د تیوریو او عملي کړنو په مرسته تخنیکي او تحقیقي مسایلو ته حل پیدا کول (P5,P6,P7,C4,C5,C6).

## د کمپیوټرساینس پوهنځی اداري تشکیل:

کمپیوټرساینس پوهنځی دوه څانګو کې جمله شپاړس تنه رسمي استادان لري چې د ریاست چارې یې  د پوهنمل عبدالرحیم احمدی له خوا پرمخ بیول کیږي. بشپړ معلومات یې په لاندې  چاپ او جدول کې کتلی شي.




| ګڼه | نوم او تخلص | د پلارنوم | تحصیل درجه | علمي رتبه | دنده | څانګه | بست | زیریدو نیټه | تقرر نیټه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عبدالرحیم احمدی | بازیر | ماستر | پوهنمل | ریس | IT | ۲ | ۱۳٦۵ | ۱۳۹۱/ ۵/۹ |
| ۲ | نسیم جان تنیوال | ولی جان | ماستر | پوهنمل | آمر | IT | ۴ | ۱۳٦۷ | ۲۵/۳/۱۳۹۲ |
| ۳ | عبدالروف خاموش | قاسم | ماستر | پوهنیار | آمر | IS | ۳ | ۱۳٦٦ | ۱۳۹۳/۱/۳۰ |
| ۴ | صالح خان صالح | علي خان | ماستر | پوهنوال | استاد | IS | ۴ | ۱۳۵۷ | ۱۴/۵/۱۳۸٦ |
| ۵ | ګوهرشاه ګوهری | مالک شاه | ماستر | پوهنمل | استاد | IS | ۴ | ۱۳٦۵ | ۳/٦/۱۳۹۰ |
| ٦ | محمد داود بابکرخیل | جنت خان | ماستر | پوهنمل | استاد | IT | ۳ | ۱۳٦۴ | ۱۳/٦/۱۳۹۰ |
| ۷ | محمدشریف حیدر | سخی محمد | ماستر | پوهنمل | استاد | IT | ۴ | ۱۳٦۲ | ۲۵/۳/۱۳۹۲ |
| ۸ | حبیب الله سلمنزی | سلمنزی | ماستر | پوهنمل | استاد | IT | ۴ | ۱۳٦۵ | ۱۸/۱۴/۱۳۸۷ |
| ۹ | سمیع الله حسن | محمدرسول | ماستر | پوهنمل | استاد | IT | ۴ | ۱۳٦۵ | ۲۵/۳/۱۳۹۲ |
| ۱۰ | جعفرخان سیدزی | سیدباز | ماستر | پوهنیار | استاد | IS | ۴ | ۱۳٦۳ | ۳/٦/۱۳۹۰ |
| ۱۱ | دلاورشاه څواکمن | نوربت خان | ماستر | پوهنیار | استاد | IT | ۴ | ۱۳۷۰ | ۲۵/۳/۱۳۹۲ |
| ۱۲ | جاوید همدر | سلطان | ماستر | پوهنیار | استاد | IT | ۴ | ۱۳٦۷ | ۱۲/۱/۱۳۹٦ |
| ۱۳ | روحاني روحان | لعل بیک | دوکتور | پوهیالی | استاد | IS | ۴ | ۱۳٦۴ | ۱۵/۴/۱۳۹۳ |
| ۱۴ | سطان احمد سباوون | محمدغني | لسانس | پوهیالی | استاد | IS | ۴ | ۱۳٦۴ | ٦/۱/۱۳۹۴ |
| ۱۵ | صادق امین زی | امین جان | لسانس | نامزد پوهنیار | استاد | IT | ۴ | ۱۳۷۲ | ۲۸/۳/۱۳۹۹ |
| ۱٦ | نقیب الله نوید | ادم خان | لسانس | نامزد پوهنیار | معاون | IS | ۴ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۴ |

## د کمپیوټرساینس پوهنځی څانګې:

د کمپیوټرساینس پوهنځی معلوماتي ټکنالوژۍ او د معلوماتي سستمونو په نوم دوه څانګې لري.

## د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې تاریخچه:

کمپیوټرساینس پوهنځی دوه رسمي څانګې لري چی دهغې جملې څخه یی یوه د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګه ده چې پهٔ (۱۳۹۰) کال کې رامنځ ته شوي او په ۱۳۹۵کال کې یی لومړی دوره فارغین ټولنې ته دخدمت په موخه وړاندې کړل . د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې پهٔ لومړي سر کې څلور رسمي استاد ان درلودل او نوره یې ټول قراردادي استادان وو، چې وروسته یی کال په کال تشکیل زیاتیده چی اوس مهال جمله ۹ تنه رسمي استادان لري.

د ۱۳۹۱ کال څخه تر ۱۳۹۶ کال پوري د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې ټول استادان لسانس وو چې پدې وروستیو پنځو کالونو کې یی ۹ نهه تنو استادانو د ماسټري زده کړې د هیواد دننه او له هیواد څخه بهر په معتبرو پوهنتونونو کې بشپړې کړې او یو استاد یی چې د لسانس تر کچې یې زده کړې درلودې د کابل پوهنتون د ماسټري برنامې ته معرفي شوی دی، چې په نیږدې راتلونکې کې به د ماسټري سند ترلاسه کړي. د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې له ایجاد څخه تر اوسه ( ۱۰ ) دوري فارغین ور کړي چی جمله ( ۵۸۵ ) تنه دي چې له دې جملې څخه یی ( ۵۶۴ ) تنه نارینه او ( ۲۱ ) تنه یې ښځینه دي.

په پای کې ویلی شو چې د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګه د کمپیوټرساینس پوهنځي لپاره یوه مهمه او موثره څانګه ده چې ټول استادان یی ځوانان او په مسلکي پوهه سمبال دي.

## د معلوماتي تکنالوژۍ څانګې لرلید Vision

د معلوماتي تکنالوژۍ څانګه به د ځان په نوي والي سره د یووشتمې پیړۍ مطابق په ملي سطحه د مسلکي کادرونو او نورو مربوطه څانګو په روزنیز او تحقیقي رهنمایي کوونکي څانګه تبدیل شي.

## معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې رسالت Mission

د معلوماتي تکنالوژۍ څانګه هڅه کوي، ترڅو یو د غوره څانګو څخه د پوهنتون، ولایت او افغانستان په سطحه وګرځي، ترڅو غوره کادرونه او مسلکي اشخاص ټولنې ته وړاندې کړي چې د هېواد په بیا رغونه کې رغنده ونډه واخلي.

## د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې موخې

:CSIT01 د معلوماتي ټکنالوژۍ اړوند د اساسي حقایقو، مفاهیمو، اصولو او نظریو په اړه ژوره پوهه وښيي(C3, P4, P5) .

:CSIT02 د معلوماتي ټکنالوژۍ نظري اصول په اړوندو برخو کې پلي کړي(C3) .

:CSIT03 د معلوماتي ټکنالوژۍ حللارې او سرچینې طرحه کړي، پلي کړي او اداره کړي، او د ټکنالوژۍ د اغېزو په اړه پر فرد، سازمان او ټولنه باندې پوهاوی ولري(C5, P7, C3, C4, P5) .

:CSIT04 د تحلیلي او انتقادي تفکر قوي مهارتونه ولري، څو د معلوماتي ټکنالوژۍ د علم، اصولو او مهارتونو په کارولو سره ستونزې حل کړي(C5) .


CSIT05: د تلپاتې زده‌کړې، څېړنې او مسلکي ودې مهارتونه رامنځته کړي (C5) .

CSIT06: د اړیکو، ډله‌ییز کار، مشرتابه او ټولنیزو اړیکو مهارتونه ولري، او د ټولنیزو، اخلاقي او حقوقي مسؤلیتونو څخه خبر وي . (A2, A4)

CSIT07: د سیستمونو د ترتیب، مدغم کولو، او ځای پر ځای کولو وړتیا ولري او سافټویر د سازماني اړتیاوو مطابق وکاروي، همدارنګه په ادارو کې تخنیکي ملاتړ او ساتنه ترسره کړي (A5, P4) .

## معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې اداري جوړښت:

د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګه جمله نهه تنه استادان لري چې د امریت چارې یې د پوهنمل نسیم جان تنیوال له خوا پرمخ بیول کیږي. تشکیلاتي چارت یې په لاندې توګه کتلی شي.




## معلوماتي سستمونو څانګه:

معلوماتي سستمونو څانګې په ۱۳۹۱ ه ش کال کې د کمپیوټرساینس پوهنځی د یوې څانګې په ډول په فعالیت پیل وکړ. د څانګې ټول محصلین په لومړي او دوهم ټولګي کې د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې د محصلینو سره یو ځای د کمپیوټر ساینس په عمومي دیپارټمنت کې زده کړې ترسره کوي، او په دریم ټولګي کې د کانکور د انتخاب سره سم دوی ته د معلوماتي سستمونو په څانګه کې د څانګړي کریکولم له مخې تدریس پر مخ وړل کیږي. دا مهال د معلوماتي سستمونو څانګه لومړی، دوهم، دریم او څلورم ټولګي لري، چې د ۱۴۰۴ هـ ش کال تر پایه پې د څلورم ټولګي څخه (۱۰) دورې محصلین ټولنې ته د چوپړ لپاره وړاندې کړي دي.

د معلوماتي سستمونو څانګه د کمپیوټرساینس پوهنځی د (۸۰۴) ګڼه او په (۱۳۹۹/۱۱/۲۹) نېټې او د لوړو زده کړو وزارت د انساني سرچینو ریاست د اداري د پراختیا آمریت د (۳۴۹)(۱۳۹۱/۱۰/۱۶) نېټې لیک له مخې په (۱۳۹۲) کال کې په تشکیل کې ځای ورکړل شوی او منظوري یې رارسیدلې ده.

## د معلوماتي سستمونو څانګې لرلید Vision

د معلوماتي سستمونو څانګې لرلید دا دی چې په ملي سطحه د معلوماتي سستمونو اړوند مسلکي کادرونو په روزلو او ټولنې ته د خدمت کولو په موخه په وړاندې کولو کې تر نورو پوهنتونونو ( د معلوماتي سستمونو څانګو ) مخکښ او یو رهنمایي کوونکي څانګه واوسي.

**د معلوماتي سستمونو څانګې ماموریت Mission**

د معلوماتي سستمونو څانګه د خپل لرلیدي خوب رښتیا کولو لپاره هڅه کوي، چې د OBE-SCL عصري تدریسي سستم عملي کړي. د دې لارې به د معلوماتي سستمونو اساسي، مسلکي، اختصاصي، اختیاري او پوهنتون شموله مضامین د څانګې د اهدافو مطابق عیار او تدریس کیږي. علاوه پردې به د څانګې په کچه د Continual Quality Improvement (CQI) دوراني سستم د پروګرام د ارزیابی په خاطر جاري ساتل کیږي. برسیره پردې به څانګه په یوه داسې سستماتیکه اداره ملبس وی، چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د ملکي قانون مطابق به استادان او محصلان خپل اکاډمیک ظرفیتونه لوړولی شي او د دوی تر منځ به د ډاډ وړ هماهنګي موجوده وي.

**د معلوماتي سستمونو څانګې موخې:**

UN: د یوې سپیڅلې او ملي روحیې په درلودلو سره ټولنې او وطن ته د خدمت کولو په موخه ژمن پاتې کیدل. (A4, A5))

CS: د کمپیوټر ساینس اساسات تشریح کول. (C2))


IS: د معلوماتي سېستمونو تیوری تشریح، عملي او تحلیل کول. (C2, C3, C4))

IS: د معلوماتي سېستمونو عملي کولو په مرسته په محلي، ملي او نړیوالو ادارو کې کاري وړتیا ښودل. ( P5, P6, P7, C4, C5, C6)


IS: د معلوماتي سېستمونو د ایجاد او عملي کولو په مرسته تخنیکي او تحقیقي مسایلو ته حل پیدا کول. ( P5, P6, P7, C4, C5, C6).

**د معلوماتي سستمونو څانګې اداري جوړښت:**

معلوماتی سستمونو څانګه جمله شپږ تنه استادان لري چې بشپړ معلومات یې په لاندی تشکیلاتیچارټ کی کتلی شی.



استادانو ترڅنګ، کمپیوټرساینس پوهنځی یو تن اجرایه مدیر، یو تن تدریسی مدیر، یو تن لبرانټ، او یو تن ملازم لري چې بشپړ معلومات په لاندې چاټ او جدول کې موندلی شي.




| ګڼه | نوم او تخلص | د پلارنوم | دنده | تحصیل درجه | بست | زیریدو نیټه | تقرر نیټه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نعمت الله محمدی | ګل احمد خان | تدریسی مدیر | لسانس | ۴ | ۱۳۶۸/۲/۱۳ | ۱۳۸۷/۳/۱۵ |
| ۲ | عبدالنواز راز | خان محمد | اجرایه مدیر | لسانس | ۵ | ۱۳۶٦/۸/۲۵ | ۱۳۹۴/٦/۱۰ |
| ۳ | حبیب الله پشتون | رحمت الله | لبرانټ | لسانس | ۵ | ۱۳٦٦/٦/۲۴ | ۱۳۹۴/٦/۲۰ |
| ۵ | جان محمد | زیردار | ملازم | متوسطه | ۸ | ۱۳۴٦/۷/۵ | ۱۳۸۲ |
| ٦ | سردار | اصیل | محافظ | متوسطه | ۸ | ۱۳۴۳/۱۲/۰۲ | ۱۳۹۰ |

**د پوهنځی اړوند فرعي کمېټې:**

کمپیوټرساینس پوهنځی په خپل چوکاټ کې نهه فرعي کمیټې لري، چې په لاندې ډول يې در پېژنو.

| ګڼه | د فرعي کمیټې نوم | د مسؤل نوم | تخلص | علمي درجه | علمي رتبه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کیفیت لوړوي | عبدالرحیم | احمدی | ماستر | پوهنمل |
| ۲ | ستراتیژیک پلان | عبدالرحیم | احمدی | ماستر | پوهنمل |
| ۳ | نصاب او OBE-SCL | صالح خان | صالح | ماستر | پوهنوال |
| ۴ | څېړنې فرعي کمیټه | محمد شریف | حیدر | ماستر | پوهنمل |
| ۵ | بریښنايي زده کړه | حبیب الله | سلیمانزی | ماستر | پوهنمل |
| ٦ | فرهنګي چارو فرعي | دلاورشاه | څواکمن | ماستر | پوهنیار |
| ۷ | نظم او ډسپلین | جاوید | همدرد | ماستر | پوهنیار |
| ۸ | شکایاتو اوریدنې او شفافیت | سمیع الله | حسن | ماستر | پوهنمل |
| ۹ | ازموینو کمیټه | ګوهرشاه | ګوهري | ماستر | پوهنمل |

**د کمپیوټرساینس پوهنځی کریکولم:**

د کمپیوټرساینس پوهنځی دواړو څانګو لومړی او دوهم ټولګیو محصلینو ته تر څلورم سمستر پورې عمومي او عیني مضامین تدریس کیږي. د مضامینو نومونه او د کریډیټونو شمېر یې په لاندې جدول کې ذکر شوي دي.

| مشخصه مضمون | نام مضمون | نوعیت مضمون | دیپارتمنت | ساعات (به سیستم سمستر) نظری – عملی | ساعات (به سیستم کریدیت) نظری – عملی | مجموع کریدت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **سمستر اول (عمومی)** | | | | | | |
| CS101 | اساسات کمپیوتر 1 | اساسی | کمپیوتر ساینس | 1-4 | 4-2 | 5 |
| SC102 | ریاضیات 1 | اساسی | ریاضی | 0-4 | 4-0 | 4 |
| HY103 | تاریخ | پوهنتون شمول | تاریخ | 0-2 | 2-0 | 2 |
| EN104 | آنگلیسی 1 | پوهنتون شمول | انگلیسی | 0-2 | 2-0 | 2 |
| IL105 | تلاوت او تجوید | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 0-2 | 2-0 | 2 |
| IL105 | اسلام اعتقادي نظام | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 0-2 | 1-0 | 1 |
| SC106 | فزیک 1 | اساسی | فزیک | 0-4 | 4-0 | 4 |
| | | | | | **مجموعه** | **20** |
| **سمستر دوم (عمومی)** | | | | | | |
| CS201 | اساسات کمپیوتر 2 | اساسی | کمپیوتر ساینس | 0-4 | 4-0 | 4 |
| CS202 | ریاضیات مجزا | اساسی | کمپیوتر ساینس | 0-4 | 3-0 | 3 |
| SC203 | فزیک 2 | اساسی | فزیک | 0-4 | 4-0 | 4 |
| EN204 | انگلیسی 2 | پوهنتون شمول | انگلیسی | 0-2 | 2-0 | 2 |
| IL205 | عبادت پوهنه | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 0-2 | 2-0 | 2 |
| IL205 | نبوي سیرت | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 0-2 | 1-0 | 1 |
| CS216 | مبادی پروگرام نویسی | اساسی | انجینیری نرم افزار | 2-4 | 4-2 | 5 |
| | | | | | **مجموعه** | **21** |
| **سمستر سوم (عمومی)** | | | | | | |
| CS331 | اساسات دیتا بیس | اساسی | سستم های معلوماتی | 2-4 | 4-2 | 4 |
| CS312 | مبادی پروگرام نویسی 2 | اساسی | انجینیری نرم افزار | 2-4 | 4-2 | 5 |
| CS303 | احتمالات | اساسی | کمپیوتر ساینس | 0-4 | 4-0 | 4 |
| CS321 | شبکه های کمپیوتری 1 | اساسی | تکنالوژی معلوماتی | 2-4 | 4-2 | 5 |
| JR305 | مهارت های ارتباطی | اساسی | ژورنالیزم | 0-2 | 1-0 | 1 |
| IL306 | اسلام اخلاقي نظام | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 0-2 | 2-0 | 2 |
| IL306 | اسلام ټولنیز نظام | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 0-2 | 2-0 | 2 |
| | | | | | **مجموعه** | **21** |

| مشخصه مضمون | نام مضمون | نوعیت مضمون | دیپارتمنت | ساعات (به سیستم سمستر) نظری – عملی | ساعات (به سیستم کریدیت) نظری – عملی | مجموع کریدت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **سمستر چهارم (عمومی)** | | | | | | |
| IL402 | فکري پوهنه | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 0-2 | 2-0 | 2 |
| IL402 | ادیان او مذاهب | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 0-2 | 1-0 | 1 |
| CS421 | مهندسی کمپیوتر | اساسی | تکنالوژی معلوماتی | 2-4 | 4-2 | 5 |
| CS422 | شبکه های کمپیوتری 2 | اساسی | تکنالوژی معلوماتی | 2-4 | 4-2 | 5 |
| CS405 | احصائیه | اساسی | کمپیوتر ساینس | 0-4 | 4-0 | 4 |
| CS423 | سیستم های عامل | اساسی | تکنالوژی معلوماتی | 0-4 | 4-0 | 4 |
| | | | | | **مجموعه** | **21** |

**د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې کریکولم:**

څلورم سمستر وروسته، د معلوماتي ټکنالوژۍ او معلوماتي سستمونو څانګو محصلینو ته د څانګو څانګړي کریکولم له لارې تدریس کیږي، چې لاندې جدول کې د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې کریکولم لیدلی شي.

| مشخصه مضمون | نام مضمون | نوعیت مضمون | دیپارتمنت | ساعات (به سیستم سمستر) نظری - عملی | ساعات (به سیستم کریدت) نظری - عملی | مجموع کریدت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **سمستر پنجم (تکنالوژی معلوماتی)** | | | | | | |
| CS521 | شبکه های کمپیوتری 3 | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | 4-2 | 4-2 | 5 |
| IL502 | اسلام اداري نظام | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 2-0 | 2-0 | 2 |
| IL502 | اسلام سیاسي نظام | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 2-0 | 2-0 | 2 |
| CS513 | انجنیری نرم افزار | اساسی | انجنیری نرم افزار | 4-1 | 3-2 | 4 |
| CS522 | سیستم های عامل شبکه | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | 4-1 | 4-2 | 4 |
| CS516 | ساختار دیتا و الگورتم | اساسی | انجنیری نرم افزار | 4-0 | 4-0 | 4 |
| | | | | | **مجموعه** | **21** |
| **سمستر ششم (تکنالوژی معلوماتی)** | | | | | | |
| CS621 | شبکه های کمپیوتری 4 | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | 4-2 | 2-3 | 4 |

| مشخصه مضمون | نام مضمون | نوعیت مضمون | دیپارتمنت | ساعات (به سیستم سمستر) نظری - عملی | ساعات (به سیستم کریدت) نظری - عملی | مجموع کریدت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| CS622 | پروگرام نویسی شبکه | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | 4-2 | 2-3 | 4 |
| CS623 | مدیریت دیتابیس | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | 4-2 | 2-3 | 4 |
| CS625 | مدیریت آی- سی- تی | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | 4-0 | 4-0 | 4 |
| IL606 | اسلام اقتصادي نظام | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 2-0 | 2-0 | 2 |
| **مجموعه** | | | | | | **18** |
| **سمستر هفتم (تکنالوژی معلوماتی)** | | | | | | |
| CS721 | شبکه های پیشرفته 1 | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | 4-2 | 2-4 | 5 |
| CS722 | شبکه های بیسیم و موبایل | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | 4-2 | 2-3 | 4 |
| CS723 | اختیاری1 | اختیاری | نظر به انتخاب | 4-2 | 2-2 | 3 |
| CS734 | پروگرام نویسی سیستم های معلوماتی ویب | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-2 | 2-3 | 4 |
| IL705 | قران کریم او معاصر علوم | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 2-0 | 2-0 | 2 |
| CS726 | پروژه و روش تحقیق | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | 4 | 4 | 4 |
| **مجموعه** | | | | | | **21** |
| **سمستر هشتم (تکنالوژی معلوماتی)** | | | | | | |
| CS821 | امنیت شبکه 1 | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | 4-2 | 4-2 | 5 |
| CS822 | مدیریت منابع تکنالوژی معلوماتی | اختصاصی | نظر به انتخاب | 4-2 | 4-2 | 5 |
| CS823 | اختیاری 2 | اختیاری | نظر به انتخاب | 4-2 | 4-2 | 4 |
| IL804 | اسلامي تمدن | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 2-0 | 0-2 | 2 |
| CS824 | پروژه و سمینار | اختصاصی | تکنالوژی معلوماتی | | | 4 |
| **مجموعه** | | | | | | **20** |

**د معلوماتي سستمونو څانگې کریکولم:**

په لاندې جدول کې د معلوماتی سستمونو څانگې د وروستی دوه کالونو نصاب په تفصیل سره لیدلی شی.

| مشخصه مضمون | نام مضمون | نوعیت مضمون | دیپارتمنت | ساعات (به سیستم سمستر) نظری – عملی | ساعات(به سیستم کریدت) نظری - عملی | مجموع کریدت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **سمستر پنجم (دیپارتمنت سیستم های معلوماتی)** | | | | | | |
| CS531 | تکنالوژی انترنت و پروگرام نویسی ویب | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 3-2 | 4 |
| CS532 | دیتابیس و سیستم های معلوماتی | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 3-0 | 3-0 | 3 |
| CS533 | اساسات مولتی میدیا | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 3-2 | 4 |
| CS534 | اساسات مودل سازی دیتا | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 4-0 | 4 |
| CS515 | انجنیری نرم افزار | اساسی | انجنیری نرم افزار | 4-0 | 4-0 | 4 |
| 05IL5 | اسلام داري نظام | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 0-2 | 0-2 | 2 |
| 05IL5 | اسلام سیاسي نظام | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 0-2 | 0-2 | 2 |
| | | | | | **مجموعه** | **21** |
| **سمستر ششم (دیپارتمنت سیستم های معلوماتی)** | | | | | | |
| CS631 | مدیریت دیتا بیس | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 3-2 | 4 |
| CS632 | ارتباط استفاده کننده با کمپیوتر 1 | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 4-0 | 4 |
| CS633 | پروگرام نویسی سیستم های معلوماتی ویب | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 3-2 | 4 |
| CS614 | ساختار دیتا(معلومات) | اختصاصی | انجینری نرم افزار | 4-0 | 4-0 | 4 |
| 50IL6 | اسلام اقتصادي نظام | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 2-0 | 0-2 | 2 |

| مشخصه مضمون | نام مضمون | نوعیت مضمون | دیپارتمنت | ساعات (به سیستم سمستر) نظری – عملی | ساعات(به سیستم کریدت) نظری - عملی | مجموع کریدت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | **مجموعه** | **18** |
| | | **سمستر هفتم (دیپارتمنت سیستم های معلوماتی)** | | | | |
| CS731 | اختیاری ۱ | اختیاری | سستم های معلوماتی | 4-0 | 3-2 | 4 |
| CS732 | اصول استفاده از تکنالوژی سیستم های معلوماتی | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 4-0 | 4 |
| CS733 | امنیت و خدمات ویب | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 3-2 | 4 |
| CS734 | سیستم های معلوماتی مصئون | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 4-0 | 4 |
| CS735 | پروژه و روش تحقیق | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 4-0 | 4 |
| IL706 | قران کریم او معاصر علوم | پوهنتون شمول | ثقافت اسلامی | 2-0 | 0-2 | 2 |
| | | | | | **مجموعه** | **21** |
| | | **سمستر هشتم (دیپارتمنت سیستم های معلوماتی)** | | | | |
| CS831 | ساختار DBMS | اختصاصی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 3-2 | 4 |
| CS832 | اختیاری ۲ | اختیاری | سستم های معلوماتی | 4-0 | 3-2 | 3 |
| CS833 | نگارش علمی و فنی | اساسی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 4-0 | 4 |
| CS834 | اداره | اساسی | سستم های معلوماتی | 4-0 | 4-0 | 4 |
| CS835 | پروژه و سمینار | اختصاصی | سستم های معلوماتی | | | 4 |
| IL806 | اسلامي تمدن | پوهنتون شمول | پوهنځی شرعیات | 2-0 | 0-2 | 2 |
| | | | | | **مجموعه** | **21** |


**د کمپیوترساینس پوهنځی فزیکی منابع:**

کپیوټرساینس پوهنځی شپږ تدريسي خونې، دوه مجهز کمپیوټرليبونه، یو کوچنی کتابتون، یو اطاق د پوهنځي رياست لپاره، دوه اطاقونه د څانګو آمریتونو دفترونو لپاره، يو اطاق د تدریسي او اجرایه مدیریت لپاره او پنځه نور اطاقونه د پوهنځی علمي کادر غړو لپاره په خپله واک کی لري.


**کمپیوټرساینس پوهنځی لیبونه:**

کمپیوټرساینس پوهځی دوه کمپیوټر لیبونه لري چی دواړه لیبونه ۹۵ مجهر کمپیوټرونه لري. د پوهنځی کمپیوټر لبونه د کمپیوټررونو ترڅنګ یو شمېر نور اړین وسایل لکه روټر، سویچونه، اکسسپوانټونه او پروجکټور لرونکي دي، چې استادان او محصلین يې د عملي زده کړو او څېړنو په موخه کاروي چې لاندی انځور کی د کمپیوټرساینس پوهنځی لېب او لاندی جدول او چارټ کی بیا د کمپیوټرساینس پوهنځی د ټکنالوژۍ اړوند اجناسو نومونه او شمېر مشاهده کولی شي.

| د کمپیوټرساینس پوهنځی اړوند فزيکي زيربناوو نوم او شمېر | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Computer | Server | Router | Switch | Access Point | Satellite Router | Firewall | Turbo IP | Robot | Camera | Super Stack | Satellite Terminal |
| 11 | 2 | 5 | 10 | 7 | 2 | 1 | 1 | 10 | 1 | 1 | 2 |




**د کمپیوټرساینس پوهنځی د کمپیوټر لېب یو انځور**



د کمپیوټرساینس پوهنځی د لبب اړوند اجناسو انځور





**کمپیوټرساینس پوهځی کتابتون:**

کمپیوټرساینس پوهنځي کتابتون لپاره ځانګړي کوټه تراوسه شتون نلري ، په لومړي ليب کي کتابونه ځای پرځای شويدي.
په دغه کتابتون کي تر اوسه تقريباً څه کم 800 ټوکه عصري او اپډيټ کتابونه شتون لري. د کتابتون د غني کيدو لپاره هڅې رواني دي. لاندی انځور کی د کمپیوټرساینس پوهنځی کتابتون ښکاري.



**کمپیوټرساینس پوهنځی درسي خونې:**

کمپیوټرساینس پوهنځی شپږ درسي خونې لري چې تدریس لپاره په اړینو وسایلو لکه تخته، پروجیکټور، پروجیکټور پرده، برق ساکټو، انټرنېټ کارولو لپاره کېبل پورټ، د باد پاکو، میزونو او چوکیو باندی سمبال دي. چې په لاندی انځورونو کې کتلی شی.



